ليکونکئ: ډيوید سوانسن (David Swanson).

سرچيني او خپريدو نيټه : کوتنر پونچ (۲۰۱۳-۱۱-۲۶).

ژباړونکئ : پوهندوي دوکتور سيد حسام «مل».

---

# لس کا له نور په افغانستان کي

10 More Year In Afghanistan

کله چي بارک اوبا ما دامريکي د متحده ايالاتو دجمهور ريس په توګه واک ترلاسه کړ، هغه وخت په افغانستان کي د ا مريکي د متحده ايالاتو د سرتيرو شمير (۳۲۰۰۰۰) کسه وه ، اوباما دامريکی د سرتيرو شمير (۱۰۰۰۰۰۰) ورسول يعنی د پنځو کالو په موده کی دامريکی دمتحده ايالاتو د سرتيرو په شمير کی (۴۷۰۰۰) کسه زياتوالی راغي . کوم چي دجګړی اودسرتيرو دزياتوالی په نتيجه کي افغا نستان څه دمالی لګښتونو ، څه دخلکو دمړنی دشمير اوڅه هم دوراني اوخرابي له نقطه نظره په نه جبراونکي زيان اونقص سره مخامخ شو اولا تر اوسه لاپسي ورانيږي ،اوداپه دی معنی دي چي افغانستان د بارک اوبا ما دواکداری په موده کي دبوش داداري دزمامداری په پرتله زيات ويجاړ او وران شو . مهم ټکی دلته دادی چی د امريکی دمتحده ايالاتو د سپيني مانۍ زمامداران غواړی چي خپل سرتيرې تر (۲۰۲۴) کال پوری اويا له هغه نيتی څخه لا وروسته په افغانستان کی تم کړي .

دافغانستان جمهور ريس حامد «کرزي» نه غواړی چي دغه معامله يا توافقنامه کوم چي دامريکي سرتيری دي په افغانستان کي تم شی لاس ليک کړي ، هغه په دی مورد کی ځنی ځا نګړی خواستي اوشرطونه امريکا يی چاروا کو ته وړاندي کړي چي دغه شرطونه او غوښتني يی مشتمل دی پر : امريکايان دی نور د غير نظامی افغانانو وژنه ودروی - نوردافغانانو دروازی دشپی په نيمايی کی په لغته دی ونه وهی اودهغو کوروتو ته دی داخل نشي ، - کرزی دامريکی دزمامدارانو څخه غواړی چي د سولی په راوستلو کی صا دقا نه هلي ځلی وکړي او شخړه دمذاکری له لاری حل کړي ، هغه همدارنګه دامريکی دمتحده ايالاتو دواکدارانو څخه وغوښتل چی له ګوانتا نا مو زندان څخه افغانی بی ګناه بند يا ن خوشي کړي او دافغانستان دجمهوری ريا ست په ټولټاکنو کي چی د اپريل په ميا شت کال (۲۰۱۴) تر سره کيږی دلاس وهنو څخه ډډه دی وکړی اوله هر ډول سبوتاژ څخه لاس پرسر شي . په هر صورت هر هغه څه چي د «کرزي» پر ميراث باندی فکر وشی اوياهغه وخيرل شی اصلاً هغه د چاپ کولو وړ نه برېښی اما زما په فکر سره دهغه دغی غوښتنی او شرطونه له هر پلو بشپړ اومعقول دي.

ايران او پاکستان په افغانستان کي دامريکي دمتحده ايالاتو د نه (۹) ګونو نظامی اډو

پرانیستل سره مخا لف دی کوم چی یوشمیر ددی اړو بیا د هغوی سرحد او پولو ته نژدی دوخت په رارسید و سره ځای په ځای کیږی . اودبلی خوا څخه دامریکی د متحده ایالاتو رسمی مقامات ایران د هغه جګړی په پلی کولوسره تهد ید وی کوم چی د پوره اود پراخ نظم غوښتونکي دي ، اودنوی موافقی پربنیاد پرته له هر څه څخه د امریکی د متحده ایالاتو توغندی په پاکستا ن کی دځا ی پرځای کیدو په جریان کی دي . اودغه دوه هیوادونه (ایران اوپاکستان ) د کرزی په دلایلو کی خپل پوره ګټی وینی .

د بلی خوا څخه دامریکی عامه خلکو په یوه نظرسنجی دامریکی دلوړ پوړو چارواکو څخه غوښتی دی چی دهغوی سرتیری هرڅومره زرچی امکان ولری له افغانستان څخه بیرته وطن ته راستون کړی اوداځکه چی مونږ ته د نیمه امنیت د راوستلو په پلمه چه هغه هم پوره نه تضمین کیږی هر ګړی (۱۰) میلونه ډالر بی له کوم لاسته راوړنی څخه په مصرف رسیږی اودهر ډالر په مصرفید و سره هغومره دنړی دخلکو په نظر منفور او سپک کیږو. او زمونږ دسربازانو دمړنی په شمیرکی دځان وژنی عملیا تو په واسطه سره هرهر وخت زیاتوالی راځی چی دا پخپله د منلو وړ نه دی ، بی ویلو دی پاتي نشی اوهغه دا چی له هغه وخته چی زمونږ نظامی قوتونه له عراق څخه بیرته راستون شوی یا له عراقه څخه را وتلی دي له همغه نیتي څخه لا تر اوسه په هغه هیواد کی دخلکو ژوند ډیر خراب شوی اوپه اصطلاح سره دهغو ژوند د یو دوزخي ژوند په څیر ژوند دی اوپه ورته بنی سره دلیبیا خلکو هم همدغسی ژوند سره لاس او پښی وهی اود بدو نه هره ورځ بدتر کیږي چی دهغه دلایل ټولوته لکه دلمر دوړانګي په څیر ښکا ری . همدارنګه په دغه نظر سنجی کی مونږ په ډاګه کړل چی دعراق نا ورین حتی د اشغا ل دکلونو به موده کی هم خپل کمپله ټول نکړ، او دوخت په تیرید و سره د تباهی کندی ته ور داخل شو ، اومونږ په دی اړه دامریکی جګړه مارو ته څو څو واری خپل غبرګون ښودلی او هغوی ته مو اخطار او هوښیار باش ورکړی دي .

یوه بل مطلب چی دهغه یادونه ضرور ګڼل کیږی هغه دا دی چی اکثر هغه هیوادونه کوم چی دافغانستا ن دروانی جګړی د دوام د پاره په شمول دا مریکی متحده ایالات دانسانی مرستی په بهانه سره جنګی مهما ت سره برابرکړی اوهغه هیواد ته د مرستی په توګه ورکړی ، اوس ټول په ما لی اوبودجوی کسر سره مخا مخ دی کوم چی یوه غټه مالی بحران په دغه هیوادونو کی خپل لمن غوړولی دی . او په دی توګه زمونږ اعتبار اوزمونږ دهیواد حیثیت او لوړتیا کوم چی په نړی کي د خلکوپه نظر یو دوست اوملګری هیواد په توګه موقف درلود زمونږ شهرت او زمونږ ویاړ د خاوری سره خاوری شو .زه په ټول بیداری اوهوښیاری اوپه شرط سره یو لړ سوالونه اړینو مقاماتو ته وړاندی کوم اودهغو څخه زما پوښتنه دادی چی مونږ خو په نظرسنجی کی تاسو ته ویلی وه چي د ثوری خلکو سره باید مرسته وشی چی ددغه روان ناروی څخه وژغورل شی اما مونږ خو دا نه وه ویلی چی تاسی هلته د جګړی دلا ګرمولو د پاره مزایل او

توغندی ولیږي.

د بلی خوا ځخه ټولو ته معلومه وه چی دامریکی د کا نګرس د دواړه خونی غړی داسی څرګندونه کړی وه چی مونږ د امریکی د عامه خلکو ځخه په وار وار سره اورید لی وه او اوس هم اورو چی نور دی ثوریی ته توغندی اوجنګی مهمات مه لیږی اما د تا سف خبره دادی چی سی آی ای (CIA) بی له دی چّي د کنګرس ددواړو خونو دغړو اجازه تر لاسه کړی پخپله خوښه هغه هیواد ته اود هغی هیواد ددولت مخا لفو جګړه ماروته وسلی اوجنګی مهمات په پټه اوپه ښکاره توګه لیږلی او لیږي .

یا داچی مونږ نظامی لوړ پوړی چارواکو ته نه وه ویلی چی د بی پیلوتو الوتکو په بمب ګوزاری سره بی ګناه ملکی خلک ووژل شي اویامونږه نه وه ویلی چی دجګړی دپاره زمونږ سرتیری افغانستان ولیږدول شی ،ولی زمونږ دغه لوړ پوړی چار واکی د ثوریی د مزایل له بحران او یا د خپل نه بریا لیتوبونو ځخه عبرت اودرس نه اخلی اوهره ورځ دنوی جګړی د پیل په نیت له خوبه پاځیږی دادامریکی هغه یوفیصد خلک دی چی خپل نیک مرغی دبل چا په بد بختی کی ګوری .

ماته یو ه مفکوره تر لاسه شوی اوهغه دا چی څه به را پیښ شی که چیری زمونږ دوه فیصد خلک خپل کرکه او انزجار دامریکی لوړو جګړه مارو مقاماتو ته دایمل د لاری ، دتظاهراتو ، لیدنو کتنو ، خبرو اترو او دمید یا پواسطه سره ښکا ره کړی او هم له دولت ځخه په ډاګه وغواړی چی زمونږ سر تیری د نورو لسو کا لونو د پاره په افغانستان کی تم نکړی اوهغوی زر بیرته خپل کورونو ته را ستنون کړی مونږ نه باید نوی ناروغی را مینځته کړو یعنی نه با ید دویتنام سندروم د افغانستان په سندروم واړو ، زمونږ سیاستوال باید دی پایلی ته رسیدلی وی چی زمونږ عامه خلک نور داضافی جنګ اوجګړی ځخه ملا ترنه کوی ، یا داچی یواخي هغوی وروسته له مونږ ځخه زړه نازړه په پټه سره زیار وباسی چی په جنګ لاس پوری کړی یا داچي مونږ چیری آرام او ځُپ کیښینو اود نوبل دجا یزی دګټونکی په انتظار کی پاتی شو چی یوه جګړه یی لا تمام کړی نه دی او دیوی نور لسیزی دپاره دنوی جګړی بند وبست وکړی پس مونږ باید ونه غواړو چی دوی پر مونږ باندي نور حکومت وکړي اویا خپل تسلط وچلوي.

------------------------------------------------

په درنا وی